**اسلامي امت د خپل برم او عزت د بیا راژوندي کېدو لپاره اړ دی چې د انګلیسي او امریکایي ښکېلاک له منګولو ځان و ژغوري**




**خبر:**

د ( ۲۰۱۷م) کال د اګسټ پر ۲۲ مه، د Gulfnews.com له لوري په خپرو شوو خبرونو کې راغلي چې شیخ عبدالله بن علي الثاني د قطر پخوانی بنسټ ایښودونکي ته په سعودي عربستان کې د شهزاده محمد بن سلمان له لوري تود ښه هرکلی وویل شو. وروسته یې مراکش ته د هغه په کوربه توب د میلمستیا په موخه سفر وکړ چې د سعودي پاچا ملک سلمان له لوري په طنجه سیمه کې د رخصتیو لمانځنې لپاره چمتو شوی و.

شیخ عبدالله و ویل، ملک سلمان  او د ده زوی د قطر د مځکنۍ پولې د پرانیستلو پر سر هوکړه وکړه چې د جون پر پنځمه نېټه بندیز پرې لګېدلی و، تر څو د مکې سپېڅلي ښار ته مسلمانو حاجیانو ته د سفر اجازه ورکړل شي. ملک سلمان حتی وړاندیز وکړ چې الوتکې به د ده په ځانګړي لګښت ولېږل شي او  له نورو لارو به الوتنې ترسره کړي، ترڅو د شیخ عبدالله تر امر لاندې د قطر له هغو وګړو سره د مرستې په موخه چې په بحراني حالت کې راګیرشوي، یو عملیاتي مرکز رامنځته کړي. د جون په میاشت کې د سعودي عربستان او د هغوی د متحدینو دیپلوماتیکي او ترانسپورتي اړیکې چې له قطر سره ترینګلې شوې او دواړو  په دوحه کې د رژیم د بدلون هڅې رد کړي دي، خو له شیخ عبدالله سره بېړنۍ او د لومړي- فصل تړون بیا یو حیرانونکی پرمختګ ګڼل کیږي.

په متحده عربي اماراتو کې يو سياسي شنونکی عبدالخالق عبدالله وايي: شيخ عبدالله ته ترفيع او ارتقا ورکول ښايي د پلان هغه برخه وي چې له دې لارې په قطري واکمن شيخ تميم بن حماد الثاني باندې فشار زياتول غواړي، ځکه چې شيخ تميم د دښمنۍ د پای ته رسېدو لپاره د دې بلاک د ۱۳ شرطونو غوښتنه رد کړه. (ګلف نيوز)

**تبصره:**

په ظاهري ډول، ډېر خلک ښايي د قطر او سعودي ترمنځ د رواني تربګنۍ او دښمنۍ په اړه ووايي چې دا ټول څه د ترهګرۍ د مخنيوي يا د قطر او ايران نږديوالي له امله يا د هغوی د ملاتړي ډلې حماس او د مسلمانانو وروڼو په پلوي ترسره کيږي. خو که موږ ځير او ژور فکر وکړو، څرګنده به شي چې دا پېښې له ډېره وخته را رواني دي. خو وروستۍ پېښې هغه وخت زور واخيست چې په سعودي عربستان کې د ډونالډ ټرمپ له ليدنې وروسته سمدلاسه قطر د ترهګرۍ د ملاتړي هيواد په توګه تورن شو.

دا يو څرګند واقعيت دی چې په ننۍ نړۍ کې د اسلامي خاورو مسلمان سياستوال په بشپړ ډول د لوېديځ ښکېلاککګرو له لوري اداره کيږي او عربي نړۍ هم له دغه واقعيت څخه مستثنی او بې برخې نه ده. دا د لمر په څېر روښانه ده، که له يوه اړخه سعودي عربستان د امريکايي رژيم يو باوري ملګری پاتې شوی او په منځني ختيځ کې د لسيزو راهيسې د امريکايي ګټو د ډاډمنتيا په موخه کارکوي، خو له بله اړخه بيا د رواني پېړۍ په پيل کې قطر د بريتانوي سياستوالو لپاره د بحث يوه لويه سيمه ګرځېدلې. د الجزيرې تلويزوني شبکې په وينا قطر په دوامداره توګه د امريکا متحده ايالتونو پاليسيانو څخه پردې پورته کوي او د برتانيې په ملاتړ په سيمه کې پر امريکايي اجنټانو او استازو بريدونه ترسره کوي. له بله اړخه بيا سعودي عربستان د امريکا متحده ايالتونو په پلوۍ د هغوی لپاره کار کوي، ترڅو د هر هغه بريتانوي استازي مخه ونيسي چې په سيمه کې د امريکايي پلانونو په پراختيا کې لاسوهنه کوي.

له همدې امله، د دوی دغه دښمني د ترهګرۍ د مخنيوي لپاره هيڅ مفهوم نه لري، بلکې دا په حقيقيت کې د امريکا او بريتانيې تر منځ سيالۍ دي، چې په سيمه کی د تيلو د سرچينو او له ستراتيژيک پلوه د منځني ختيځ مهمي سيمې تر خپل نفوذ لاندې راولي. په دې اړوند الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ * قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ﴾**

**[ العمران: ۱۱۸]**

*اې مومنانو! له خپلو خلکو پرته له نورو (غير مسلمانانو) سره خپل رازونه مه شريکوئ. هغوی ستاسې د ورکولو لپاره هيڅ فرصت له لاسه نه ورکوي. تاسې ته چې په هر څه زيان اوړي، هغوی خوښي پرې ښکاره کوي. د هغوی د زړه دښمني له خولې څرگنديږي او هغه څه چې يې په خپلوسينو کې پټ ساتلي دي، ډېر ستر دي. موږ تاسو ته څرگندې لا رښوونې کړي دي که تاسی له پوهې څخه گټه واخلی.*

د الله سبحانه و تعالی د امر نه منلو ترڅنگ، د اسلامي نړۍ ټگ او درغلي کوونکي واکمنانو لوېديځوال د اولياوو ( ساتونکو او مشاورينو) په توگه نيولي چې هغوی د اسلام پر وړاندې نفرت لري او د مسلمانانو هيڅ پوله نه پېژني. د ترهگرۍ سره د جگړې تر نامه لاندې لويديځ ښکېلاکگر په وحشي ډول د مسلمانانو وژلو ته يا په اسلامي نړۍ کې يې د لسيزو راهيسې د وژونکو رژيمونو ملاتړ ته دوام ورکړی. د لوېديځوالو د ډارونکو پاليسيو او تگلارو په مټ د اسد ظالم رژيم له لوري نږدې تر ۵۰۰۰۰۰ زيات نارينه، ښځې او ماشومان په سوريه کې په شهادت رسېدلي دي. دغه راز د سوريې نږدې نمايي وگړو د دغه جنگ ځپلی هيواد پرېښودو ته اړشوي او نور پاتې وگړي د بمونو او گوليو ترمنځ له وېرې څخه په ډک حالت کې ژوند کوي. د دې پرځای چې له دغو ناتوانو او بې وسو مسلمانانو سره مرسته وکړي، سعودي رژيم په يمن کې يوه نوې نيابتي جگړه د خپلو ښېلاکگرو بادارانو په ملاتړ پيل کړې چې په زرگونو خلک يې وژلې او په ميلونونو نور يې د قطحۍ، مرگ او ويجاړيو پر ټغر کښېنولي. له بله اړخه بيا قطر د نړۍ يو له شتمنو هيوادونو څخه گڼل کيږي چې د خپلو مسلمانانو ملگرو د مرستې لپاره يې لاس نه دی اوږد کړی، خو پرځای يې د امريکا متحده ايالتونو ته فرصت ورکړی چې د دوی په سيمه کې سترې پوځي اډې جوړې کړي، ترڅو له دې لارې امريکايي الوتکې وکولای شي چې په عراق، افغانستان، سوريه او يمن کې بريدونه ترسره، مسلمانان په ښبه او تباهۍ رامنځته کړي.

د يمن، سوريي، برما، افغانستان او عراق مسلمانانو زړه ماتوونکي کريغې او چغې د مسلمانو واکمنو کڼو غوږونو ته لا نه دي رسېدلې؛ ځکه دوی د خپلو ښکېلاکگرو بادارانو په خدمت بوخت دي، ترڅو د دوی نړيوالي موخې او لاسته راوړنې خوندي کړي. سعودي عربستان او د هغوی متحدينو له قطر سره اړيکې پرې کړې، خو دوی هيڅکله هم د يهودي بنسټ جنايتکار دولت سره اړيکې و نه شلولې، چې د فلسطيني مسلمانانو پر وړاندې په دوامداره جنگي جرم تورن دي. نه يې هم هيڅکله د لوېديځوالو ښکېلاکگرو ځواکونو پر وړاندې جگړې کولو ته ژمن پاتې شول چې هغوی د نړۍ لومړۍ درجه ترهگر شمېرل کيږي. دغه د مسلمانانو هيوادونو ظالم واکمنان په خپلو منځونو کې يو د بل پر وړاندې له سختۍ څخه کار اخلي، په ځانگړې توگه د خپلو مسلمانانو ورونو پر وړاندې. په داسې حال کې چې د کفري بادارانو پروړاندې له نرمۍ څخه کار اخلي او په دې اړه الله سبحانه و تعالی په قرآن کې فرمايي:

**﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾**

**[الفتح: ۲۹]**

*محمد رسول د الله دی هغه کسان چې له ده سره دي، پر کفارو سختي کوي او په خپلو منځونو کې نرمي کوي.*

اوس هغه وخت راغلی چې په اسلامي نړۍ کې لوېدیځ ښکېلاک رد او له منګولو څخه یې ځان خلاص کړو. دغه ښکېلاک اسلامي امت ته له تلپاتې ویجاړۍ او سپکاوي پرته بل څه رانه وړل. اوس هغه وخت رارسېدلی چې دویم ځل بیا د محمد صلی الله علیه وسلم پر طریقه نبکمرغه دولت تاسیس کړو، چې دا به دویم رښتینی راشده خلافت وي. ځکه چې یوازې رښتینی خلافت د نړۍ مسلمانان له لاسپوڅو بهرنیو پالیسیو څخه خلاصولی شي او جعلي سیاستونه لکه د قطر او سعودي عربستان بهرنۍ پالیسۍ، سیاستونه، منظمې دوامداره جګړې، ویجاړۍ او سپکاوی له منځه وړلی شي. رښتینی راشده خلافت به په ټولیز ډول دامت ویاړ او شرافت بیا را ژوندی کړي او دغه امت به په نړۍ کې د باعزته او درناوي وړ خلکو په توګه وساتي.

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**فهمیده بنت ودود**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۵ مه**

**۲۰۱۷م، اګېست ۲۷ مه**